# زېری

علمي- څېړنیزه، ادبي پنځلس ورځنۍ جریده

د تأسیس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

درېنۍ (سه شنبه) د تلې ۱۳ - ۱۴مه گڼه، پرله پسې (۴۵۳-۴۵۴) مه گڼه، د ۱۴۰۴ل کال د وږي ۳۰مه، د ۱۴۴۷هـ.ق. کال د ربیع الثاني ۲۹ مه او د ۲۰۲۵م.کال د اکتوبر۲۱مه


ته سلطان د بحر و بر یې زما ربه!
د هر چا په حال خبر یې زما ربه!

ستا په کار د هیچا علم نه رسېږي
د هر چا له عقله بر یې زما ربه!

بهایي جان صاحبزاده


څېړنپوه دوکتور سید نظیم سیدي


ادبي اصطلاحات

# ابتذال

د ادبي اصطلاحاتو په لړ کـــــــــې بله ادبي اصطلاح ابتذال ده چې د ادبي فنونو په صنعت کې د مطالعې ځای لري، خو له بده مرغه د پښتو ادب د فنونو په کتابونو کې دا اصطلاح یا نه شته او یا هم ډېرو کمو لیکوالو معرفي کړې چې هغه هم په سختۍ پیدا کېږي، پر همدې اساس دلته یې د ځینو اصطلاحي ځانگړنو له مخې در پېژنم.

ابتذال په لغت کې د جامې یا کالیو ناپاکۍ ته وایي او په ادبي اصطلاح کې درې پراخې معناوې لري چې وروسته به ورته نغوته وشي، خو استاد ناگار بیا ابتذال په شعر کې د داسې الفاظو راوړل یادوي چې په وینا یې څوک یې نه خوښوي، لکه:

> د للمي سرې په مخ کې وي آب چېرې
> هغه خلک چې بې آب وي خو بې آب وي

د استاد په وینا پورته شعر کې آب د حیا په معنا، بې آب، بې حیا او بې اصله او بل بې آب هغو ته خطاب دی چې اوبه نه لري. اوبه د کښت اړتیا وي. د فورم او محتوا له مخې شعر ډېر لوړ او تجنیس یې موسیقیت زړه ناستی کړی، خو ځینې کلمې او خطاب یې د اخلاقو منافي ښکاري. (۱)

خو مولوي نجم الغني ابتذال ته له بل دیده گوري او وایي؛ د ذلیلو، خوارو او بې ارزښتو کلمو کارول او د عامو خلکو محاورې راوړل چې خواص ترې ډډه کوي، لکه د برات شپې په شپه...، خو جاوید آفتاب د خپل همدغه ژباړلي متن په دوام کې د پنډت کیفي په حواله کاږي؛ په کلام کې بازاري او نامعتبرو مضمونونو راوړل عاموالی او کمزوري پیدا کوي چې له دې سره کلام مبتذلیږي.

نوموړی د دې لپاره چې پر همدغه پېژند خلک منښته ونه کړي، نو په دې اړه د مولانا شبلي پېژند هم وړاندې کوي چې کاږي؛ په عام ډول داسې فکر کېږي چې د ابتذال معنا داسې ده: کومې کلمې چې عام خلک کاروي، هغه مبتذلې دي، خو دا سمه نه؛ ځکه په زرگونو کلمو کې د عوامو خبرې او الفاظ دي، خو دې ټولو ته مبتذلې کلمې نه شو ویلای. د ابتذال معنا له ښه ذوق پرته بل هېڅ شی نه دی. ښه ذوق خپله دا درته وایي چې دا کلمه مبتذله، خرابه او بازاري ده. (۲)

نو دغو بېلابېلو لیدلورو او پېژندونو ته په کتلو سره دې پایلې ته رسېږو چې ابتذال په لغت کې د کالیو ناپاکۍ ته وایي چې معنا یې هماغه د عامو خلکو بازاري خبرې دي او په ادبي اصطلاح کې په درېوو معناوو کارول کېږي:

۱. د غورځېدلو او بې ارزښتو خبرو ویل او په


۲مخ



پوهندوی دوکتور سید اصغر هاشمي


# د پوهاند زیار د څېړنو او پنځونو پړاوونه

**لنډیز**

پوهاند زیار د پښتو ژبې د پیاوړو لیکوالو څخه دی، دی څېړنې او پنځونې لري، د ده علمي کارونه څو لسیزې کیږي چې پیل شوي دي خو د ده د خپل وینا مطابق چې د ده د څېړنو د پیاوړتیا پړاو یې د ژوند وروستی وخت او یا همدا اوس دی او د پنځونو د پیاوړتیا پړاو یې هم د ژوند وروستۍ مرحله ده. په لیکنه کې د استاد په څېړنو او پنځونو خبرې شوي دي او د ده د لیکنو د عروج په مرحلو په دلایلو بحثونه شته.

د استاد د څېړنو د پیاوړتیا پړاوونه ښودل شوي دي او د پنځونو په پیاوړتیایي پړاوو یې هم بحث شته دی او ځینې لارښوونې څېړونکیو ته شوي دي چې کوم کارونه علمي کارونو(څېړنې او پنځونې) ته قوت ورکولای شي.

**سریزه**

هر څېړونکی د پیاوړتیا (عروج) مرحله لري، د محقق د عروج مرحله یې د زړښت وخت دی، خو په دې شرط چې علمي کار وکړي، ډېر کتابونه ولولي، د علماوو سره یې راشه درشه وي، انتقادي فکر ولري، هره خبره په ړندو سترگو ونه مني، په لیکنه کې د نورو لیکوالو د نظر تایید او کله کله په علمي ډول یې ردول د محقق سره د عروج مرحلې کې مرسته کوي.

په دې څېړنه کې د پوهاند زیار د څېړنې د عروج مرحله او د ډاکتر زیار د پنځوونو د پیاوړتیا مرحله له دلایلو سره ښودل شوي دي. همدارنگ د ډاکټر زیار د څېړنې او پنځوونې د پیاوړتیا د پړاوونو په توپیرونو بحث لري.

**د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت**

ځینې لیکنې نوې وي او مخکې پرې کار شوی نه وي او ځینې لیکنې داسې وي، چې نورو لیکوال پرې کار کړی وي، خو کله چې بل لیکوال پرې کار پېلوي، نو کوښښ کوي چې په نوي طرز او لارې موضوع پیل او پای ته ورسوي.

دغه لیکنه ځینې نوې خبرې لري، چې د مقالې نویوالی ثابتوي. د استاد د پنځونو دپیاوړتیا په هکله مې نېغ په نېغه ورسره خبرې کړې دي او همدارنگه د هغه د څېړنو د قوت له تکتیکونو مې ځان خبر کړی او په مقاله کې ښودل شوي دي.

د څېړنې اهمیت په دې کې دی، چې د څېړونکیو سره د لیکنې پیاوړتیا په راوړلو کې مرسته کوي او دا چې دا یو ارادي عمل دی، ښودل شوی، چې څنگه پیل او پای ته ورسېږي.


۳مخ


جاوید افتاب

# واسواخت (بېزاري)

د واسواخت لغوي معنا: بېزاري، کرکه، سوځېدل او مخ اړول دي.(ریخته) دا هغه معنوي فورم دی چې د مَین او محبوب تر منځ د مینې راز و نیاز را څرگندوي. په دې فورم کې د شاعر د زړه درد، اه او بدې دعا انځور څرگندیږي.(۱)

د واسواخت په اړه د عبدالحلیم شرر نظر لولو اردو شاعرۍ یو ډول واسواخت دی. په خاص ډول عاشقانه مسدس دی او عموماً د دې موضوع دا وي چې لومړی د خپلې مینې اظهار او بیا د خپل معشوق غندنه او د هغه/هغې د بېوفایۍ، سنگدلۍ، ظلم او ستم په اړه اظهار او زړه نه ورته بد رد وایي او بیا په ډېر قهر او غوسه هغه/هغې ته دا باور ورکول چې زه پر بل معشوق مَیَن شوم. د دغه فرضي معشوق د حسن او جمال په تعریف او ستاینې سره خپل معشوق سوځول، ځورول، د گپ شپ خبرې پرې اورول او د هغه/هغې غرور ماتول چې ببرته بیا له خپل عاشق سره یوځای کېدو ته اړ/اړه شي. (۲)

فارسي ژبې شاعر وحشی یزدي د واسواخت بنسټگر بلل کیږي. په اردو کې ډېر ژانرونه په دکني دور کې پیل شوي دي. محمد حسین آزاد په »آب حیات «کې او عبدالحی په «گل رعنا» کې میر تقي میر د واسوخت لومړنی شاعر گڼلی دی. په اردو کې میر، سودا، جرأت، مومن او نورو په واسوخت کې طبع آزمایي کړې ده، خو ډېر شهرت په-کې امانت لکهنوي گټلی. نوموړي دوه واسواخته لیکلي چې د لکهنوي شاعرۍ پر ځینو عامو خامیو (لکه لفظي رعایت یا بربنډې او نور) سربېره د اردو تر ټولو غوره واسواختونه دي. د «شعله جواله» په نامه د واسوختونو یوه ټولگه په دوو ټوکونو کې په لکهنو کې چاپ شوې ده. په دې ټولگه کې له میر او سودا نه نیولې د میر او داغ تر زمانې پورې د شاعرانو واسوختونه شته دي. (۳)

په پښتو کې د دغه معنوی فورم د پیدایښت څمکه هم کوزه پښتونخوا ده. محمد زبیر حسرت د جرس مجلې په نظم گڼه کې د خوشال خان خټک د مېرمنې اغلې توتیا یا مرجانې هغه غزل د واسوخت په بېلگه کې راوړی دی چې د یوه روایت له مخې اغلې توتیا دا غزل هغه وخت ویلی چې خوشال خان خټک په هند کې بندي و او دې دا شعر هند ته وراستولی و. چې زما په اند، دا غزل د واسوخت له پورتني تعریف سره پوره اړخ نه لگوي؛ په دې غزل کې شاعره نه د معشوق له بېوفایۍ سر ټکوي او نه ورته ښېرا او بد رد


۳مخ



ل: پروفیسور سیال کاکړ

ژ: څېړندوی بشرمل زرغون


# د مولانا بلخي د مثنوي پښتو ژباړې (۱) برخه

مولانا بلخي رحمه الله د مثنوي معنوي پیل په دغو خوندورو او زړه راښکونکو بیتونو کړی دی:

> له شپېلۍ څنې کیسه د بېلتون واوره
> دا کیسه د یو مهجور د ژوندون واوره
> چې پر خوله یې هی ارمان د نیستان دی
> له هغې ورځې د وصل په ارمان دی
>
> چې رابېل له نیستانه په فریاد دی
> لا تر اوسه یې وصال د ژوند مراد دی★

په عرفاني نړۍ کې جلال الدین محمد د سلطان العلمأ بهاؤالدین بن حسین الخطیبي په لقبونو نړیوال شهرت لري، نوموړی د اسلام یو له لویو عارفانو څخه شمېرل کېږي، دغه منلی شخصیت د اوسني افغانستان، د بلخ په ښار کې، په »٦۰۴ هـ ق «کې دې نړۍ ته سترگې غړولي او منځوی زده کړې یې په یاد ښار کې پای ته رسولي دي چې په همدې ترتیب د ښارونو مور(أم البلد) له ښاره ولېږدېد، د نیشاپور پر لور رهي شو او له عطار نیشاپوري سره یې لیدنه وشوه، ورپسې د علم د زده کولو لپاره (حلب، دمشق، او قونیې) ته ولاړ، له دې وروسته یې له لوی عارف او بزرگ شخص شمس الدین (شمس تبریزي) سره لیدنه وشوه او دغه ټوله رڼایي او اوځارتوب د شمس تبریزي د لیدو و چې د ده په عرفاني ژوند کې یې یو لوی بدلون وښندهٔ، په دې باره کې په خپله مولانا بلخي رحمه الله داسې ویلي دي:

> مولیٰنا مولای روم نه شد
> تا غلام شمس تبریزی نه شد

جلال الدین محمد چې په عرفاني نړۍ او د پارسي ادبیاتو په تاریخ کې د (مولیٰنا) او یا د (مولوي) په نامه شهرت لري؛ نوموړي په خپل ژوند څو آثاره کښلي دي چې له دغو نه: مثنوي معنوي، دیوان شمس تبریزي، فیه مافیه، مجالس سبعه او مجموعهٔ مکتوبات د نښې په ډول ترې راپاتې دي چې په یادو آثارو کې یې تر ټولو نوموتی(مثنوي معنوي) اثر گڼل کېږي او دغه اثر په شپږو دفترونو کې دی، مولیٰنا په دغو دفترونو کې بېلابېل عرفاني مطالب رانغاړلي دي.

مثنوي معنوي داسې یو کتاب دی چې په دې اثر کې مولوي ډېر گران او ارزښتمن عرفاني مطالب او معنوي حقایق د نظم په بڼه راوړي او د داستان په شکل یې بیان کړي دي، ژبه یې ډېره ساده، روانه او زړه راښکونکې ده، د مولانا بلخي د عرفان د سرچینو په باره کې یواځې د قرآن او حدیثونو سرچینه ښودل او لیکل شوي، همدا لامل دی چې مثنوي معنوي د نړۍ د مسلمانانو پر زړونو واکمني کوي، یو چا ډېر ښه ویلي دي:

> مثنوی معنوی مولوی
> هست قرآن در زبان پهلوی

هو!! مثنوي د پارسي ادبیاتو په تاریخ او په ځانگړې توگه په عرفاني نړۍ کې ډېر زیات اوځارتوب تر لاسه کړی دی، په حقیقت کې یاد کتاب د نوموړي غوره شوي افکار دي چې عرفاني نړۍ یې روښانه کړې او پارسي ادبیاتو تاریخ ته یې ښکلا ښښلې ده، که څه هم له مولوي نه وړاندې حکیم سنایي غزنوي او عطار نیشاپوري په عرفاني اسمان کې د ځلاندو ستورو په شان خلک ځانته راښکلي وو؛ مگر مولانا بلخي په تصوفي نړۍ کې له دغو ټولو لومړیتوب وړی دی.

ربښتیا دا دي چې مثنوي معنوي د خپلې ارزښتمنې منځپانگې(Contents) او راښکونکو مطالبو له امله د نړیوالو پام ځانته رااړولی او یاد اثر د نړۍ په ډېرو ژبو ژباړل شوی دی؛ نو اړینه وه چې د دغې لرغونې خاورې خلک له مثنوي معنوي نه ارمنه گټه واخلي چې له


۲مخ

## د مولانا بلخي د مثنوي پښتو...

نېکه مرغه پښتانه پوهان له تېرې زمانې او تر ننه مثنوي معنوي ته ډېر درناوى لري او له دغه بډاى اثر څخه هر اړخيزه ګټه اخلي؛ نو په همدې اساس د مثنوي معنوي مطالب په پارسي وو او زياتره پښتنو نه شول کولى چې له دغه خواږه او ارزښتمن کتابه ګټه واخلي چې همدغه ستونزه د پښتو ځينو پوهانو او ليکوالو ښه درک کړه او ښه پوخ پام يې ورته وکړ چې بايد مثنوي معنوي په پښتو وژباړل شي چې د افغاني خاورې پښتانه د دغه نړيوال اثر له فيوضاتو برخمن شي او د پښتو له لارې د مولانا بلخي او د منلي انسان له افکارو سره بلدتيا ومومي.

په لاندې کرښو کې د مثنوي معنوي ټولې پښتو ژباړې چې تر دې دمه★★ که په نثر او که په نظم شوي؛ ګرانو لوستونکو ته په بشپړ ډول ورپېژندل کېږي چې له دې سره به قدرمن لوستونکي له يادو ژباړو خبر شي:

**(۱)پښتو مثنوي**

د پورتني اثر خاوند څومره په زړه پورې پيلونه کړې:

دا د نله حکايت دی
له بېلتونه شکايت دی
دا زه نه يم »مولوي «دی
په پښتو ښه »مثنوي «دی

مثنوي معنوي رښتيانی چې شهکار اثر دی، د پښتو ادبياتو په تاريخ کې مولوي صالح محمدخان کندهاری ړومبی کس دی چې دغه ارزښتمن کتاب يې په پښتو نظم ژباړلی دی، دغه اوچت او فرهنګي شخصيت د فيض محمدخان زوی، د محمداکبرخان لمسی، د ملا محمدموسی کړوسی او د محبت نيکه کودی دی، نوموړی د کندهار د هوتکو له قبيلې څخه دی؛ البته مور يې د مولوي عبدالروف کاکړ لور او د ستر مبارز شهيد مولوي عبدالواسع کاکړ خور ده، همداسې دغه نوموتي ليکوال او غوره شاعر د لوی استاد علامه عبدالحی حبيبي له علمي او فرهنګي کورنۍ سره هم خپلوي درلوده، د اروابناد استاد بېنوا په وينا نوموړی په »۱۳۰۷ هـ ق« د کندهار ښار، د »باميزايو کوڅه «کې دې نړۍ ته سترګې پرانېستې دي؛ مګر د استاد حيات الله خان رفيقي د ليکنې له مخې نوموړی د »ملا ګل داد کوڅه « کې دې نړۍ ته سترګې غړولې دي، دغه سپېڅلي شخصيت له ډېرو کلونو وروسته په »۱۳۳۹ هـ ش «له دې نړۍ سترګې پټې کړې.

اروابناد صالح محمدخان کندهاری متدين عالم او صوفي مشربه شخص و، دی د پښتو غوره شاعر او نثر ليکونکی و او د مولوي عبدالخالق خان واسعي په وينا دغه بزرګواره شخصيت د کابل په يوه پوهنتون کې د پښتو ړومبنی استاد پاتې شوی دی، اروابناد استاد بېنوا په »اوسني ليکوال، دويم ټوک «کې د مولوي صالح محمدخان کندهاري آثار په دې ډول راپېژني:

**۱: عزيزي تفسير**
**۲: پښتو کتاب، درې ټوکه**
**۳: پښتو ژبه، دوه ټوکه**
**۴: پښتو پښويه، ګرامر**
**۵: اطاعت اولی الامر**
**٦: د شعرونو ټولګه**

البته حيات الله خان رفيقي د نوموړي له دغو يادو کتابونو سربېره په خپلې ليکنې»مولوي صالح محمد هوتک «کې يو څو نور کتابونه هم په دې ډول ياد کړي:

**۱ : تذکرةالشعراء (د سراج الدين سعيد په مرسته)**
**۲ : پښتو صرف او نحوه (له اردو څخه ژباړه)**
**۳: پاشلې ويناوې**

بايد ووېل شي چې مولوي صالح محمدخان کندهاري د مولانا بلخي له اثر سره ډېره مينه درلوده او د اروابناد علامه حبيبي په وينا: ((نوموړي همېشه مثنوي لوسته او د مولېنا له افکارو يې الهام اخيسته او د ده افکار يې د پښتو په نظم کې پېيل)).

په خپله اروابناد صالح محمدخان کندهاري د مثنوي په اړوند په پښتو دا ډول مطالب راوړي دي:

زما عرض دی په پښتو
ای ښاغلو پښتنو

ډېر مې خوښ دی مثنوي
مثنوي د مولوي
مثنوي څه ښه کتاب دی
چې ګويا د عشق په باب دی
مولانا خو لوړ جناب دی
مثنوي يې لوی درياب دی
د عرفان سين دی بهېږي
ډېر عالم پې سېرابېږي
د هر چا سره رغېږي
و هر چا تی فيض رسېږي
په درياب کې مرغلرې
مثنوي کې ښې خبرې
مثنوي کې ښې کيسې دي
تر شکرو لا خوږې دي
شپه و ورځ مثنوي لوله
درياب لوی چمچه دې خپله
مثنوي لوله دلبره
که خوند غواړې د زړه سره

چې د مينې اور لرينه
مثنوي يې ور لړينه
* * *
غوښت مې زې ښه ترجمه کړم
دا پښتو په ده خوږه کړم
مثنوي که په پښتو سي
بخت به لوړ د پښتنو سي
پښتانه به عارفان سي
د بادار به عاشقان سي
مجازي او حقيقي
عشق به دوی وپېژني
* * *
په پښتو که دين بيان سي
پښتانه به عالمان سي

د پښتو خدمت کومه
شپه و ورځ يې زه ليکمه
نو پر خيال د مولوي
زه ليکم يو مثنوي
پر نېک پال مې دی نيولی
مولوي مې ننګولی
اقتدا د مولوي کړم
پيروي د مثنوي کړم
څه نسبت زما خوارکي
او د لوی، لوړ مولوي
مولانا خو مولانا دی
لوی عارف هم په رښتيا دی
مقتدی دی، مقتدی دی
مولانا دی، مولانا دی
زه چې هر بيت جوړوم
مولوي پر ننګوم
مثنوي په پهلوي دی
په پښتو زما مثنوي دی
برکت مې پر قلم کړه
نازک خيال مې ښه راسم کړه
هم په روی د مولوي
قبول کړې زما مثنوي

دغه خيال مې راتر سر کړې
دغه باغ مې پُر ثمر کړې

ښکاره ده چې اروابناد صالح محمدخان کندهاری مولوي پوه و، ده د مثنوي درانه مطالب ښه درک کړي وو، نوموړي نه يواځې چې د مولوي له افکارو خوند اخيست؛ بلکې د زړه له تله يې غوښتل چې ټول پښتانه د مولوي له عرفاني مطالبو سره د پښتو ژباړې له لارې اشنا کړي چې په همدې اساس نوموړی په دغې نېکې لاره کې بريالی شوی هم دی او د اروابناد علامه حبيبي په وينا د مثنوي ځينې برخې يې په ازاده توګه نظم کړې دي.

د مولوي صالح محمدخان ژباړه رښتيانی چې ازاده ده؛ البته د مثنوي آرو مطالبو او مفاهيمو ته يې هېڅ زيان نه دی رسولی؛ بلکې د مثنوي منځپانګه يې په ساده، روانه ژبه او په عاميانه سبک بيانه کړې ده، انداز يې خوندور او ژبه يې ډېره خوږه ده، پښتني ټولنې ته »پښتو مثنوي « عرفاني سوغات او ادبي شهکار دی، غونډ خلک »پښتو مثنوي «ډېره خوښوي او ډېره ګټه ترې اخلي، لامل يې دا دی چې »پښتو مثنوي «درې ځلي چاپ شوې ده.

**د "پښتو مثنوي" بېلابېل چاپونه**

دلته بايد يوه روښانتيا ورکړل شي چې »پښتو مثنوي «په »۱۳۱۸ هـ ش «کې په نظم اوډل شوې ده او په »۱۳۵۸ هـ ش «کلونو کې د ړومبي ځل لپاره د افغانستان د علومو اکاډمۍ، د پښتو د پياوړتيا رياست له خوا په کابل کې د اروابناد غلام محمد ترکي په اهتمام د زرو ټوکونو په شمېر خپره شوې ده، په ړومبي چاپ کې د بسمه تعالی تر سرليک لاندې د پښتو د پياوړتيا رياست له خوا د اروابناد محمدابراهيم خواخوږي يو څو ګټورې خبرې راغلي، ورپسې د اروابناد علامه حبيبي د »مولوي صالح محمد کندهاری «تر سرليک لاندې د پښتو مثنوي ژباړن يې په بشپړ ډول راپېژندلی دی، له دې وروسته د »پښتو مثنوي «تر سرليک لاندې په خپله د مولوي صالح محمدخان کندهاري يو څو ګټورې خبرې ليکل شوې دي.

په همدې اساس د »پښتو مثنوي «ړومبی چاپ نه پيدا کېده؛ نو د خلکو د لېوالتيا په پار »پښتو مثنوي «دوو پښتو کتابپلورونکو حبيب الله او حمدالله په »۱۳۱۸ هـ ش «په کندهار کې د دويم ځل لپاره چاپ کړه، ورپسې درېيم چاپ د عبدالولي صالحي هوتک او عبدالغياث مخلص په اهتمام، په »۱۳۸۵ هـ ش «په کوېټه کې د صحاف نشراتي مؤسسې له خوا تر سره کړ، دغه ټول فيوضات د مولانا بلخي د مثنوي دي چې »پښتو مثنوي « څو ځل چاپ شوې ده او اوس دا دی د »پښتو مثنوي « يو څو بيتونه ستاسې درانه خدمت ته وړاندې کېږي:

مثنوي کې دي ليکلي
مولانا ښه دي ويلي

د ليلا د عشق له زوره
مجنون ووتئ له کوره
اوښې راوسته پر سپور سو
د ليلا د کور پر لور سو

د ها اوښې يو جونګی و
پاته سوی خوارکی و

او يا دا:

دا کيسه د مثنوي ده
ما پښتو کړه دا پارسي ده

وه څلور تنه سړي
يو و چټ، بل عسکري
يو سيد و، بل ملا
باغ ته راغله دوی په غلا

څلور پلنډې وترلې
هم څلور سره يې وړلې

او يا دا:

دا کيسه ده د توتي
ده راوړې مثنوي

سوداګر تئ هندوستان ته
هندوستان تاجرستان ته
دا جهان د تجارت دی
دا جهان د منفعت دی
دا جهان د ازمويښت دی
دا جهان، جهان د کښت دی
دا جهان، جهان د ګټې
دا جهان، جهان د وټې
ګټې څو رازده دي جانه
ځينې ګټې وي نقصانه

په ظاهر وي ځينې ګټې
په باطن کې سرې سکروټې

**(د مقالې پاتې برخه په راتلونکې ګڼه کې)**

## ادبي اصطلاحات: ابتذال...

کلام کې د ادب او درناوي په پام کې نه نيول، يعنې چې زړه دې د هر ډول بې ادبه او بې باکه خبرو ويل وغواړي، بې تکلفه يې ووايي (۳)، چې په پښتو ادب کې د دغه ډول ويناوو جرأت تر ډېره خوشحال خان خټک کړی دی، لکه په دې بېلګه کې يې چې ګورو:

شناخت، ادب، شرم سړيو لره بويه
په دا درې توکه څاروي نه دي اشنا
چې يې مور او پلار سخي، سخي زوولی
په هغه کې به خطا نه شي پيدا
چې د سپي په پيو لوی کا څوک ورغومی
لکه سپی هسې ورغومی کا غپا (۴)

په ادب کې د دغه ډول الفاظو کارول چې سړي له څاريو سره تشبيه شي يا ورغومی له سپي سره تشپيه شي او يا هم خپل اولادونه کله نا کله د سپيو او دې ورته الفاظو په کارولو سره ياد کړي دا ډېر په ندرت ليدل کېږي، ځکه دغه ډول جرأت د هر شاعر او ليکوال د وسې کار نه دی او بيا د داسې ليکوال چې هم ليکوال وي، هم شاعر وي، هم ستر واک وي، هم تورزن او هم په لسګونو نورې ښېګنې او خوبۍ ولري، خو خوشحال دا جرأت کړی او دا ډول الفاظ يې کارولي، چې همدې ته ابتذال وايي.

البته د ادبپوهانو په وينا په دغه ډول ابتذال کې موخه يوازې د شخص سپک يادول يا ښوول نه دي، بلکې د سپکولو ترڅنګ د اثر يا شخص بې ارزښته کول يې هم موخه وي، چې دلته يوازې شخص او ژوی بې ارزښته ښوول شوي دي.

۲. دويم ډول ابتذال هغه دی چې شاعر يا ليکوال د بل شاعر يا ليکوال له کلامي ځانګړنو څخه ګټنه وکړي او سبک يې تقليد کړي. استاد ګل رحمن رحماني په خپلې يوې مقالې کې د پير محمد کاروان يوې څلوريزې ته نغوته کوي، چې تقليد يې عبدالمجيد وفا په ناشعوري توګه کړی دی. کاروان صاحب وايي:

ژوند مې د سپين ستورې په څېر خوښېږي
لاس مې په سپوږمۍ ځينې چاپېر خوښېږي
شاعر سړی يمه رښتيا به وايم
دا ښکلې نه دي دا مې ډېر خوښېږي

هوا خوږه شوه لونګينه راځي
په دغه لاره بيا حسينه راځي
شاعر انسان يمه دروغ څه معنا
زما په ټولو ښکلو مينه راځي (۵)

په دې بېتونو کې ګورو چې لومړي ډول ابتذال غوندې تحقيرونکي الفاظ نه شته، خو سبکي او کلامي تقليد شته، داسې چې د لومړي شاعر د کلام دويم بيت د الفاظو په بدلون سره کابو کټ مټ را نقل شوی، خو خوند يې ځکه پيکه شوی چې شاعر پر رښتيا خبره اقرار کوي، خو په دويمه بېلګه کې شاعر ته ځان يو ډول دروغجن ښکاري او هڅه کوي چې د شاعر په ستاينوم سره ځان له درواغو بچ کاندي او همداسې دا نور لفظي مشترکات يې هم در واخله، خو د همدې مقالې په يوې بلې برخې کې استاد رحماني د ښکاره غلا په سرليک د دوو شاعرانو يو داسې بيت راوړي چې په ښکاره ترې د الفاظو ابتذال مونډلای شو.

کاظم خان شيدا وايي:

په هندي ادا يې وکړې په ما چارې
زه شيدا په زړه ساده د روه افغان يم
خو نور محمد نوري بيا همدا بيت داسې وايي:
په هندي ادا يې هر څه له ما لوټ کړه
زه ساده په زړه پښتون د خراسان يم (٦)

د نوري په بيت کې ګورې چې د لوټ کلمه په شعر کې مبتذله شوې ده او ډېر خوند نه لري، ځکه کله چې همدغه بيت د الفاظو په تفاوت سره ښاغلی شيدا وايي، نو نه يوازې خوند او زړه راښکون لري، بلکې د کلمې جذابيت او هنريت يې له ورايه چيغې وهي، خو نوري چې په کوم ډول کارولې، هم يې بې خوندي او هم يې ابتذال پيدا کړی دی.

۳. درېيم ډول ابتذال هغه دی چې شاعر يا ليکوال يوه ادبي جوړونه په خپلو ليکنو او اثارو کې د ډېر کارېدنګ له امله عامه او متعارفه کړي(۷)، لکه ځينې ليکوال د ځينو ناشونو کارونو ترسره کولو لپاره د بسوګۍ واده، ترکاڼې د بيزو کار نه دی، د هوا سترګو کې شګې، لمرين کلی او داسې نورې کلمې زياتې تکراروي، په داسې حال کې چې اکثريت يې هېڅ معنا هم نه لري، لکه د هوا سترګو کې شګې څه معنا؟

ستورو ته ناست يم له سيتاره سره، زلمۍ سندرې، نشته ترې بل ښه ګل، سپوږمۍ ژاړي او داسې نور نومونه چې اکثر يې د شعري ټولګو نومونه دي او شاعرانو ته يې شاعرانه نومونه ښکاري، خو که يې معنا ته ځير شو، نو بيا جوتېږي چې دا څه معنا او څومره پر ځای کارېدلې دي!.

نو په ټوله کې د ابتذال ادبي سمفوني د پښتو ژبې په شعري او منثورو کلامونو کې په کافي اندازې شته، خو دا چې لا تر اوسه ورته زموږ د ادبي فنونو اکثريت ځانګه وال متوجه شوي نه وو، نو ځکه مې يې په اړه دا څو کرښې کاږل اړين وبلل، هيله ده چې زموږ ځانګه وال ورته متوجه او نور نا برسېره اړخونو يې هم را وسپړي.

**مأخذونه**

۱. ناګار، فضل ولي. معاني، ميهن خپرندويه ټولنه: جلال اباد، ۱۳۹۷ل کال، ۵۹ مخ.
۲. صديقي، حفيظ ابو الاعجاز. ادبي او کره کتنيز اصطلاحات، پښتو ژباړه، جاويد افتاب، ناچاپ اثر، ۱۴۰۲ل کال، ٦ مخ.
۳. عباسپور، هومن. فرهنګنامه ادبي فارسي (دانشنامه ادب پارسي)، د حسن انوشه په سرپرستی، دويم ټوک، دويم چاپ، وزارت فرهنګ و ارشاد اسلامي: تهران، ۱۳۸۱ل کال، ۲۰ مخ.
۴. خټک، خوشحال خان. د خوشال خان خټک کليات (له نويو زياتونو سره)، د عبدالقيوم زاهد مشواڼي اوډنه، پرتلنه، سمون او وييپانګه، دويم چاپ، دانش خپرندويه ټولنه: کابل، ۱۳۸۷ل کال، ۵۴٦ مخ.
۵. رحماني، ګل رحمن. شعري غلا، لومړيتوب پاڼه، لاسرسی:۱۲/۷/۱۴۰۴ل کال. www.lomritob.com
٦. رحماني، ګل رحمن. پورتنی مأخذ.
۷. عباسپور، هومن. فرهنګنامه ادبي فارسي (دانشنامه ادب پارسي)، د حسن انوشه په سرپرستی، دويم ټوک، دويم چاپ، وزارت فرهنګ و ارشاد اسلامي: تهران، ۱۳۸۱ل کال، ۲۰ مخ.

★★★★★★★
★★★★★
★★★★

# د پوهاند زيار د څېړنو او...

**د څېړنې موخې**

د څېړنې د عروج مرحله ښودل شوې ده. محقق کولای شي، چې په اينده کې خپل کارونه په کوم شان سم پيل او پای ته ورسوي، په ليکنه کې ښودل شوي دي.

دا چې څېړنه شعوري عمل دی، د دې اعمالو لارې چارې ښودل شوي دي او همدارنگه پنځوونه غير ارادي عمل دی، د هغه د پياوړتيا مرحلې له دلايلو سره ښودل شوی دی.

**د څېړنې پوښتنې**

- د پوهاند زيار د څېړنې د پياوړتيا مرحله کله وه؟
- د ډاکټر زيار د پنځوونې د پياوړتيا مرحله کله پيل شوه؟
- څېړنه او پنځوونه ارادي او که غير ارادي کړنې دي؟ په مثالونو کې ښودل شوي دي.

**د څېړنې ميتود**

په ليکنه کې له ساحوي څېړنيز ميتود گټه اخيستل شوې ده او په ساحوي څېړنه کې له مرکې، مشاهدې استفاده شوې ده، همدارنگه سروی او تشريحي ميتود مې غوره کړی دی.

**متن**

د جسمي ځواکمتيا لپاره فزيکي سپورت اړين دی او فکري ځواک لپاره مطالعه، نو له همدې لامله دا د اتيا کلن پوهاند زيار د ډېرې لوستې(مطالعې) او څېړنيزو علمي هڅو پايله ده، چې نن هم علمي ځوان دی او د علمي کارونو د پياوړتيا دوره يې مخ پر بره درومي.

د فردي توپيرونو مفهوم دی، د نړۍ ډېرو انسانانو ذکاوتونه، احساسات، تخيلات، تاثر، ذوق او داسې نور هغه کړه وړه چې د انسان له دنني او بهرني جوړښت سره توپير لري. يو ليکوال به د څېړنيزو کارونو ذکاوت لري او بل به د پنځونو. يو به يو ډول ذوق لري او بل به بل ډول. (۱)

انسانان د ژوند په پړاوونو کې له فزيکي او مانيز توپيرونو سره مخامخ يږي. دا چې ټولې څېړنې او پنځونې د انسانانو په وسيله تر سره کيږي نو اړينه ده چې د ده څېړنيز کارونو به پياوړتيا پړاو ته رسيږي او همدارنگه د ده په پنځونوکې به ادلون بدلون راځي.

د هر څېړونکي په کارونو کې مثبت او منفي ادلون بدلون منځ ته راځي.کله به يې پنځونې لوړو پوړيو ته رسيږي او کله کله به يې په ويناوو کې مخکينی اغېز نه وي. د علمي کار په پيل کې به د مبتدي څېړونکي په ډول څېړنيز کارونه کوي، خو له وخت تېريدلو سره به ترې ښه څېړونکی جوړيږي.

ادبپوهنه، ژبپوهنه او ادب تيوري سره اړيکې لري، که څېړونکی د ادب تاريخ ليکلو اراده ولري، نو دی بايد د ادب تيورۍ مطالعه او پوهه ولري، ځکه د ادب تاريخ ليکوال لپاره په تيورۍ پوهيدل اړين دي.

پنځونې له څېړنو سره اړيکه لري،که څېړنه نه وي، نو پنځونې پرمختگ کولای نه شي او که چېرې پنځونې نه وي، نو څېړنه بې معنا کيږي. د ټولو څېړنيزو کارونو پرمختگ له پنځونو سره اړيکه لري او يو له بل سره تړلي او پېيلي دي. هره ټولنه څېړنې، پنځونې، ژباړې،څېړلي(تحليلي) نښيرونو او په نورو ژبو ليکل شويو نښيرونو(اثارو) ته اړتيا لري.څېړنې يو ډول ارزښت لري او پنځونې بل ډول.

ځينې خلک پنځونو ته د څېړنې په پرتله ډېر ارزښت ورکوي او وايي چې اول لاس پنځيز بديعي ادبيات دي. بديعي ادبيات خپل ارزښتونه لري او د شعر د ډولونو او د هنري نثر د ډولونو بنسټيز ارزښت يې په هنريت او شعريت کې دی او د ادب بنسټيز او ټوليز توکي راوړل پکې اړين دي.

څېړنيز ادبيات خپل منځپانگيز او جوليز جوړښت لري، په يو نوم او بل نوم هرې ليکنې ته څېړنيزه ليکنه ويلای نه شو. څرنگه چې هر نثر هنري نثر نه وي او يا هر ډول نظم شعر کېدای نه شي، دغه شان هره ليکنه د څېړنې تر نوم لاندې راتلای نه شي.که چېرې يوه علمي ليکنه په ټولو علمي او اکاډميکو لارښوونو برابره وي او په سکالوکې د څېړنې حق ادا شوی وي او د يوې ښې څېړنې ټولې لارې چارې پکې په خپل ځای راغلي وي نو د داسې ليکنو ارزښت زښت ډېر دی.(۲)

استاد زيار د هغو پوهانو څخه دی چې د ده ټولې څېړنيزې ليکنې د څېړنې د نوم د معانيز اړخ په نظر کې نيولو سره په تول پوره دي او ډېرې پنځونې يې هم همدا شان دي.

**د پوهاند زيار د څېړنو پياوړتيايي پړاو**

د استاد زيار څېړنې او پنځونې د ځوانۍ په حال کې دي. د خوشحال د شعر د ځوانۍ پړاو يې د بند د پير (وخت) شاعري وه، دغه شان د استاد د ليکنو د ځوانۍ وخت اوسمهال دی. انسان ځواني او زړښت لري، دغه شان څېړونکی د څېړنيز کار په نظر کې نيولو سره هم پرې ځواني او زړښت راځي. د زيار د ليکنو ځواکمتنيا په نظر کې نيولو سره د ځوانۍ پړاو يې نوې پيل شوی. د الله پاک له درباره اميد لرم چې دغه دوره يې نوره هم اوږده شي.

د اروپوه ويگوتسکي په اند د څېړنې د د لوړتيا (عروج) پړاو د (۴۰ـ۶۰) کلونو پورې ښول شوې ده، خو زما په پوهه پر کورنيو او بهرنيو څېړونکيو او پوهانو کې داسې کسان شته چې له شپتو کلونو روستۍ څېړنې او پنځونې يې له پخوا څخه ښې دي. د داسې کسانو له جملې پوهاند زيار هغه څېړونکی او پنځوونکی دی چې د ليکنو لوړتيايي پړاو يې اوسمهال پيل شوی دی.

د څېړونکي د ځوانۍ وخت يې د زړښت پير وي، خو په دې شرط چې د څېړنيزو کارونو له پيل څخه د وخت په تېريدلو په ځانگړې برخه کې مطالعه، د پوهو څېړونکيو سره ناسته ولاړه او همدارنگه د څېړنې سره يې سرو کار وي، يعنې ډېره لوستنه او د علمي عمر تېرېدل او تجربه د څېړنې بنسټ جوړوي، چې خوشبختانه د استاد علمي عمر ډېر تېر شوی دی او شپيته کلنه علمي تجربه لري.(۳)

کله چې څېړونکی په لومړنيو کارونو پيل کوي، علمي او څېړنيزې هڅې به يې ځينې ستونزې لري، خو د وخت په تېريدلو او د ډېر رياضت سره يې په علمي کارونو کې ښه والی راځي. په ټوليز ډول د نړۍ ډېرڅېړونکي او په ځانگړي ډول د پښتو ژبې هغه څېړونکي چې خپلو اکاډميکو کارونو ته يې دوام ورکړی او ژوند يې څېړنو ته ځانگړی کړی دی، د لومړنيو کارونو ځينې روستي کارونه به يې ښه وي.

د ځينو نورو پوهانو په شان د پوهاند زيار څېړنيز کارونه هم د پخوا نه ښه شوي دي او لامل يې سېستماتيکه مطالعه او علمي څېړنې دي.

د استاد زيار پخوانۍ څېړنې يو رنگ درلود خو اوسنۍ څېړنې له بلې زاويې تر پلټنې لاندې نيولې دي. د زيار پر ۱۳۶۰ ل کال وييپوهنه او پر۱۳۹۴ ل کال ويېرغونه او وييپوهنه د څېړنې د لارو چارو په نظر کې نيولو سره توپير لري، يعنې علمي تجربه، دوامداره علمي کار، د نورو پوهانو نښيرونه(اثار) لوستل، درس ورکول او داسې نور مسايل د ده په علمي کارونو اغېز کړی دی.

د استاد پخوانی او اوسنی نښير(وييپوهنه) خپل ارزښت لري، خو د څېړنې اصولو او لارو چارو پر بنسټ يې روستي کار کې اکاډميک ځواکمنتيا ډېره ده. پورته خبره پر دې دلالت کوي چې په څېړنو او علمي کارونو کې لوړوالی او بشپړوالی د عمر په تېريدلو، ډېرې مطالعې، د پوهانو سره علمي اړيکې، د عالمانوسره راشه درشه، د کتابونه لوستل، څېړنيز انتقادي فکر، د خپل فکر او نظر درلودل، د هر چا فکر او خبره په پټو سترگو نه منل، د څېړنې رياضت او داسې نورې خبرې د دې لامل کيږي چې د څېړونکي پر کارونو کې ښه والی راشي.

څېړنه ارادي عمل دی، څېړونکی چې څومره ډېره مطالعه کوي، په هماغه کچه يې پوهنيز کارونه ښه کيږي، د ليکوال پياوړی عزم او اراده هم ورسره اړيکه لري، خو کله کله په څېړنو کې له ځينو داسې مسايلو سره مخامخ يږو چې غير ارادي او يا ناشعوري کړنې ورته ويلای شو.

## د پوهاند زيار د پنځونو پياوړتيايي پړاو

پوهاند زيار په لسگونو پنځييز نښيرونه(اثار) ليکلي دي.د ده د خپلې وينا او زما د پوهې پر بنسټ د ده د اوسمهال پنځونې د ځوانۍ تر مهاله پخې او پياوړې دي. په ټولنيزو پوهنو کې بديعي ادبياتو د پياوړتيا او بشپړتيا پړاوونه لري چې په بېلا بېلو وختونو کې پر انسانانو راځي، چې د استاد د پنځونو د پياوړتيا پړاو هم اوسمهال دی.

پنځونې ځانگړی استعداد او ذکاوت غواړي او د پياوړتيا وخت يې ناڅرگند وي. دا هغه نبوغ دی چې د انسان له ولولو، عواطفو، نگېرنو انگېرنو، خوښيو او خواشينيو او ټول هغه اکر بکر چې د انسان دنني او بهرنی جوړښت پرې اغېز ښندي، اړيکې لري.

د استاد مبارزه د ژوند له ناخوالو سره روانه ده، خو د ده په خپله وينا چې جلا وطني، د ژوند تجربه، دوامداره علمي کار، د دننني هر ډول تاثيراتو ډېروالی د دې لامل شو چې زما(زيار) په پنځونه کې له پخوا ځواکمتيا ډېره شوې ده.

ټولې پنځييزې کړنې د انسان له تاثراتو او دننني کړو وړو سره اړيکه لري، په انسان ډول ډول حالات راځي او د دغو ښو او بدو حالاتو د راتگ وخت ناڅرگند وي، دا هم څرگند نه وي چې پنځوونکی په کوم وخت کې ښه ليکنه کولای شي، نو له همدې لامله د څېړنې د پياوړتيا پړاو ناڅرگند وي، يعنې نه شو ويلای چې د عمر په کوم پړاو کې پنځوونکی ښه پنځوونه کولای شي.

دا(پنځونه) هغه غير ارادي او کله ـ کله لا الشعوري عمل دی، چې پر پنځگر د الهام په بڼه راځي او دی کولای شي چې د دغه وخت نه گټه واخلي او ښه شعر او يا نثر وليکي. غير ارادي عمل د ليکوال په واک کې نه وي او تحت الشعور په اړه اروپوهنه داسې وايي: په هر انسان د ژوند په مختلفو پړاوونو کې ډول ډول حالات راځي.کله خوشحاله او کله خفه وي. کله مالداره او کله غريب وي.کله په درد او کله بې درده وي، په انسان د دغو مثبتو او منفي حالاتو تاثرات د انسان په وجود کې رسوب کوي، يعنې د ژوند د خوښيو او خواشنيو شيبې، اروايي کړنې او ټولې هغه اغېزې چې د انسان دنني جوړښت سره اړيکه لري، د انسان په تحت الشعور کې وي، که چېرې يو پنځگر د غريب او بيچاره انسان په ليدلو سره يې ولولې وپارېږي او د ده ذهن ته د ليکلو سکالو راشي او وېې ليکي نو اړينه ده چې د ژوند په پړاوونو کې به پر ده غريبي او بيچارگي تېره شوې وي او د هماغه وخت حالات به يې تحت الشعور کې پاتې وي او د دغو شيبو په ليدلو سره په غير ارادي ډول هغه پخواني شيبې ذهن ته راځي او پرې اغېز کوي، نو دی مجبور شي چې ليکنه وکړي، د دغو حالاتو وخت نا څرگند وي.

استاد هغه پنځگر دی چې پنځونې يې د پياوړتيا په حال کې دي او د ده د شعرونو د ښه والي دور لکه د رحمان بابا او يا غني خان په شان د ژوند روستي پړاو کې دی.

د پښتو ژبې پياوړی شاعر خوشحال خان خټک ډېره شاعري کړې ده او د څېړونکيو په وينا چې لومړنی شعر يې په شل کلنۍ (۱۰۴۲) کې ويلی دی، له ټولو پخوانۍ قلمي نسخه يې په علومو اکاډمۍ کې شته، په دې نسخه کې يوه داسې څلوريزه شته چې پر(۱۰۹۹) کال ليکل شوې، نو له دې خبرې داسې انگېرلای شو چې خوشحال د مرگ تر ورځې(۱۱۰۰) کال پورې شاعري کړې ده، چې شاو خوا(۴۰۰۰۰) بيتونه يې ويلي دي. خان بابا د شل کلنۍ نه تر اته اويا کلنۍ پورې اته پنځوس کاله شاعري وکړه.

د خوشحال د شاعرۍ د لوړتيا(عروج) پړاو د بند د وخت(۱۰۷۴ـ۱۰۷۹) شاعري ده. فراقنامه، حبسيات او ډېرې بوللې په بندکې ويلې او د شاعرۍ د پياوړتيا مرحله يې ده.(۴)

د رحمان بابا د شعرونو د بشپړتيا دور د ژوند روستۍ(زړښت) مرحله ده، د دې دور شاعري يې د فکر ژوروالی لري، تصوف او عرفان ته داخل شوی، دنيا يې د زړه او سر په سترگو مطالعه کړه، د خلکو ستونزې حس کړې، په دې دور کې ملنگ شو، قلندر شو او درويشي يې اختياره کړه.

د غني خان ښه شاعر دی، خو بيا هم د ده په شعر کې د پياوړتيا پړاو د زړښت د وخت شاعري ده. د دې دور شاعري عشق او محبت، فلسفي او حقيقت نه ډک شعرونه دي، دغه شاعري يې د هستيو د ذاتي پېژندنې په غرض انسان ته ښوونه او د شيانو د حقايقو او د هغو د وجود له لاملونو څخه بحث کوي او د فکر او هستيو له اړيکو څخه غږېږي، چې د هغو د پېژندنې له اغېزې د انسان لاره د لوړې موخې لپاره څرگندوي.

د پوهاند زيار څېړنې او پنځونې د پرلپسې پياوړتيا او بشپړتيا پړاو کې دي او د الله تعالی له درباره ورته اوږد عمر غواړم چې ليکنې يې لا پايښنه وي ومومي.

**پايله**

د انسان لپاره ژوند يوه موقع ده چې د دواړو کونو کاميابي پکې تر لاسه کړي، استاد زيار له ځوانيه تر اوسه(۸۰) کلنۍ پورې يې خپلو خلکو ته خدمت کړی دی، استاد ډېر مستحق دی او ما يې د همدغه علمي هڅو او زحمتونو په نظر کې نيولو سره کوښښ وکړ چې د ده د څېړنو او پنځونو هغه مراحل تاسو ته څرگند کړم چې کله يې کار پيل کړ او تر اوسه پورې يې څنگه خپل کارونه کړي دي او د ده په علمي او اکاډميکو کارونو کې کوم تغييرات او تحولات راغلي دي؟ کله راغلي دي؟ ولې راغلي دي؟ په مقاله کې په دغو تغييراتو خبرې شته او په علتونو يې بحث شوی دی او د بېلگې په ډول د استاد ژوند يوه بېلگه ښودل شوې ده.

### مأخذونه


۱. هاشمي، سيد رحمن. عمومي ارواپوهنه، هاشمي خپرندويه ټولنه: ننگرهار، ۱۳۹۵ل کال، ۹۹ مخ.
۲.باور، خليل الرحمن. د څېړنې لارښود، بلوچستان يونيورسټي: کوټه، ۲۰۱۲م کال، ۲۵ مخ.
۳. هاشمي، سيد اصغر. د مقالې ليکنې بنسټونه، هاشمي خپرندويه ټولنه: جلال اباد، ۱۳۹۵ل کال، ۱۶ مخ.
۴. هاشمي، سيد اصغر. د پښتو نظم تاريخ، مومند خپرندويه ټولنه: جلال اباد، ۱۳۹۳ل کال، ۳۲ مخ.


# واسواخت...

وايي، بلکې يوازې له خپل معشوق څخه د يو معلوم مجبوريت پر اساس ځان لرې احساسوي او د خپل زړه د درد اظهار يې ورته کړی دی.

د اغلې توتيا غزل داسې دی:

نور به مخ په آئينه برابر نه کړم
نه به دواړې سترگې توري په رانجه کړم
نه به سپين لاسونه سره کړم په نکريزو
نه به لاندې باندې لب په پاڼو سره کړم
چې د مينې يار مې نشته چې يې گوري
د صورت سينگار و کوم يوه ته وکړم
درست صورت مې سرې لمبې شي شنې ډېوزې
چې د خپل مَين د مينې زار تر زړه کړم
که ژوندون تر هر څه خوږ دی په جهان کې
اوس بې ياره په ما تريخ شي زه يې څه کړم
هغه يار مې چرته دی خوشحال دې اوسي
دی دې خپله خوشحالي کا غم به زه کړم (۴)

په دې غزل کې د واسواخت ټولې ځانگړنې نه ليدل کيږي او د دې غزل د ليکلو موخه او کيسه روښانه ده، نو دې غزل ته به واسواخت ويل مناسب نه وي.

### مأخذونه


۱- ازمون، لعل پاچا. پښتو نظم پوهنه، ختيځ خپرندويه ټولنه: جلال آباد، ۱۳۹۷ل، ۷۳۳مخ.
۲- صديقي، ابوالاعجاز حفيظ. کشاف تنقيدي اصطلاحات، دويم چاپ، اداره فروغ قومی زبان: اسلام اباد، ۲۰۱۸م، ۲۷۷مخ.
۳ـ پورتنی اثر، ۲۷۸مخ.
۴- حسرت، محمد زبير. مشموله پښتو جرس (غزل گڼه)، مومند خپرندويه ټولنه: جلال آباد، ۱۳۹۴ل.

# زېری

د تأسیس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

علمي- خېړنیزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جریده

**مسئول مدیر:** څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورین

**مهتمم:** څېړندوی پښتون پښتون

**کمپوز او ډیزاین:** دوکتور خاورین

**کتنپلاوی:** اکاډمیسین څېړنپوه دوکتور سید محي الدین هاشمي، څېړنوال رحیم الله حریفال، څېړندوی احسان الحق کبیر، څېړندوی مطیع الله ساحل

**برېښنالیک:** zerai1316@asa.gov.af / zerai1316@gmail.com

● په زېري جریده کې له سرلیکنې پرته، د نورو لیکنو سپیناوی په لیکوالو پورې اړه لري.

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبیاتو مرکز
خپرنیز ارگان

www.asa.gov.af

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، توره باس خان څلورلارې، نوی ښار کابل- افغانستان

**د اړیکې شمېرې:** (780831960) (0) (+93)
(202201279) (0) (+93)

**د یوې گڼې بیه:** پنځه افغانۍ

د ۱۴۰۴ ل.کال، د تلې میاشتې ۱۳- ۱۴مه گڼه | پرله پسې ۴۵۳- ۴۵۴ مه گڼه



څېړندوی محمد اتل انگار


## زده کړه ییزه ژبپوهنه (Educational Linguistics)

ژبپوهنه هغه علم دی چې د ژبې داخلي جوړښت څېړي یا »ژبپوهنه د ژبې څېړلو او مطالعه کولو پوهنه ده، مرژواندې او په راتلونکي کې پیداکېدونکي ژبې ورباندې څېړل کېږي. «(لودین، ۱۳۹۵: ۷مخ) یا په بله وینا: »هغه علم چې ژبه، د هغې څرنگوالی او داسې نورې راز راز ژبنۍ مسئلې څېړي، ژبپوهنه بلل کېږي.د ژبپوهنې نړیوال نوم لینگوستیک (Linguistic) دی چې لینگوه (Lingua) د ژبې او استیکه (Istica) د پوهنې معنا لري. ژبپوهنه هغه علم دی چې د ژبو جوړښت او ځانگړتیاوې د معاصرو میتودونو پر اساس په یوې ټاکلې مرحله کې مطالعه کوي. «(غوربندی، ۱۳۹۷: ۳۳مخ)

په لویه کې ژبپوهنه پر دوو اساسي برخو باندې وېشل کېږي چې یوې برخې ته یې نظري ژبپوهنه او بلې برخې ته یې تطبیقي ژبپوهنه ویل کېږي. تطبیقي ژبپوهنې ته څو نور نومونه هم وایي لکه: مستعمله ژبپوهنه، عملي ژبپوهنه، ماکرو ژبپوهنه او داسې نور. تطبیقي ژبپوهنه خپل مواد له نظري ژبپوهنې څخه لاس ته راوړي، یعنې که نظري ژبپوهنه نه وي نو تطبیقي ژبپوهنه هم نشته. په تطبیقي ژبپوهنه کې ژبه په لویه پیمانه څېړل کېږي، یعنې دا کتل کېږي چې ژبه له خپل ذات څخه بهر له کومو علومو سره اړیکه لري. دا ژبپوهنه ډېر ډولونه لري چې اساسي یې دا دي: زده کړه ییزه ژبپوهنه، ټولنیزه ژبپوهنه، روانپوهنیزه یا نفسیاتي ژبپوهنه، انتروپولوجیکل (انسان پېژندونکې) ژبپوهنه، جغرافیایي ژبپوهنه، کمپیوټري ژبپوهنه، اسلوبیات او نور په لسگونو ډولونه لري چې موږ دلته یوازې زده کړه ییزه ژبپوهنه تر غور او بحث لاندې نیسو.

دې ډول ژبپوهنې ته د زده کولو او ور زده کولو ژبپوهنه (Pedagogical linguistics) هم وایي. زده کړه ییزه ژبپوهنه هغه څانگه ده چې د ژبې د علمي څېړنو پایلې د ښوونې او زده کړې په بهیر کې کاروي. دا څانگه د ژبپوهنې، ښوونپوهنې، ارواپوهنې او ټولنپوهنې له گډو پولو رامنځته شوې، د دې ژبپوهنې له لارې ژبه د زده کوونکو د پوهې، اړیکو، او ټولنیز گډون وسیله گرځي. په دې معنا، زده کړه ییزه ژبپوهنه د ژبې د تدریس پر تخنیکونو نه، بلکې د زده کړې پر ژبني بُعد تمرکز کوي. ډاکټر اورمړ یې په اړه وایي: »د سیمه ییزې ژبې په زده کولو او ور زده کولو کې هم په لیکنۍ او هم په وینایيزه بڼه په ټولو زده کړه ییزو ځایونو (ښوونځیو، مدارسو) کې ژبپوهنه کارول کېږي. همدارنگه د سواد زده کړې د بېلابېلو مسایلو مطالعه او د گرامر ډېرې پرمختللې موضوع گانې، کلمې، د ادبي سبکونو ارزونه او د ژبې کارونه په ځان کې رانغاړي او په پراخه معنا د زده کړې په ټولو برخو کې د ژبپوهنې په کارولو سره لکه په متونو او علمي مطالبو کې د ژبې د کارولو لارې چارې یا د ښوونکي او زده کوونکي تر منځ د خبرو اترو ماهیت مطالعه کوي. «(کابل مجله، ۱۳۹۱: ۲-۱گڼه، ۹۷ مخ)

په دې څانگه کې ژبپوهان دا څېړي چې ښوونکي او زده کوونکي څنگه د ژبې له لارې پوهه تولیدوي او شریکوي، ښوونیز چاپېریال څنگه د ژبې د کارونې بڼه ټاکي او زده کوونکي څنگه د ښوونې په جریان کې ژبه نه یوازې د اړیکې، بلکې د هویت او واکمنۍ د څرگندونې وسیله گرځوي. دا څانگه د هغو ټولنو لپاره ځانگړې اهمیت لري چې څو ژبې لري، ځکه په داسې ځایونو کې د زده کوونکو د ژبې، کورنۍ ژبې او ښوونیزې ژبې ترمنځ اړیکې د زده کړې پر پایلو ژور اغېز کوي. د دې ژبپوهنې آرې موخې دا دي: د ژبپوهنې له لارې د تدریس پیاوړتیا، د زده‌کړې د چاپېریال لپاره ژبني سیاستونه جوړول، د زده‌کوونکو ژبنۍ اړتیاوې درک کول او د ښوونکو، ژبپوهانو او نصاب جوړوونکو تر منځ اړیکې ټینگول.

د زده کړه ییزې ژبپوهنې په اړه ډاکټره بشرى اکرام لیکي: »تعلیمي ژبپوهنه په تعلیم کې د ژبې د استعمال او د ژبې له زده کړې سره تعلق لري دا یو ډېر پراخه مضمون دی. «(اکرام، ۲۰۱۸: ۳۴۷مخ) رښتیا هم دا یوه ډېره پراخه ساحه د مطالعې لپاره لري ځکه چې زده کړه ییزه ژبپوهنه د ژبې د زده کړې دوديز نظریات له انتقادي لید سره یوځای کوي. دا د دې پلټنه کوي چې ښوونیز نصاب، د ارزونې معیارونه، او د ښوونځي ژبني سیاستونه څنگه د ځینو زده کوونکو ملاتړ او د ځینو د محرومیت لامل گرځي. په همدې اساس، دا څانگه یوازې علمي نه ده، بلکې د ټولنیز عدالت له نظریو سره تړاو لري، ځکه غواړي زده کړه د ټولو ژبنیو او کلتوري ډلو لپاره عادلانه او اغېزمنه کړي. دا څانگه نه یوازې د ښوونکو لپاره د ژبې د تدریس علمي بنسټ برابروي، بلکې د تعلیمي نظام د پراختیا لپاره هم ژور نظریاتي ملاتړ وړاندې کوي.

### مأخذونه


۱ ـ اکرام، بشرى. ژبپوهنه، پښتو اکېډېمي پېښور پوهنتون: پېښور، ۲۰۱۸ز.

۲ ـ اورمړ، خلیل الله. ژبپوهنه ، کابل مجله (۱ -۲ گڼه)، د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړیکو مرکز: کابل، ۱۳۹۱ل.

۳ ـ غوربندی، میراجان. د ژبپوهنې مبادي، جهان دانش خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۳۹۷ل.

۴ ـ لودین، دولت محمد. د عمومي ژبپوهنې مسایل، ختیځ خپرندویه ټولنه: جلال آباد، ۱۳۹۵ل.



څېړنوال رحیم الله حریفال


## نوې هیلې، نوی ژوند

نوی ژوند او نوې هیلې، نوو کارونو، نوو زحمتونو او پلانونو ته اړتیا لري، هېڅ هیله او تغییر له منظم پلان او برنامې پرته تر سره کېدای نه شي؛ له موخو او اهدافو پرته ژوند لکه بې روح کالبوت داسې دی، نو د سپرلي په راتگ سره باید د ژوندانه موخو ته هم جدي پاملرنه وکړو، خپلې اړتیاوې په نخښه کړو او بیا تر غور وروسته د نوي کال لپاره پلان جوړ کړو، د ارزښت له مخې خپلې موخې سره بېلې کړو او موخه هغې پایلې او لاسته راوړنې ته ویل کېږي، چې یو تن یې د یوې کړنې له ترسره کولو وروسته غواړي، نو له دې څخه ښکاري، چې کله موږ مثبتې پایلې غواړو، نو کار او فعالیت ته هم اړتیا ده؛ یوازې د موخو ټاکل هم کوم درد نه دوا کوي، موخه چې نه وي، د کار او فعالیت انگیزه هم نه وي، همدا موخې دي، چې د کار او فعالیت د انگېزې باعث گرځي.

زموږ په وطن او ټولنه کې ډېری داسې وي، چې موخې او هداف یوازې په ذهن کې قرار لري، خو په ذهن کې غیر منظم اهداف هېڅکله هم د بریا لامل نه شي کېدای او د لنډ وخت په تېرېدو سره په ټول هېر او د حافظې له پردې پاک شي، نو که غواړو، چې خپلو نوو هیلو او اهدافو ته ورسېږو، مجبور یوو، چې د نوي کال لپاره اهداف وټاکو، کله مو، چې اهداف وټاکل؛ هغه په منظمه توگه د کاغذ پر مخ ولیکو، د کاغذ پرمخ تر لیکلو پورې زموږ مسوولیت پای ته نه رسېږي، تر هغه وروسته په کار دي، چې خپل اهداف د ارزښت او مهموالي پر بنسټ ووېشو او بیا یې د پوره کېدو لپاره په منظمه توگه خپلو هڅو او کوششونو ته دوام ورکړو.

د اسلام ستر پیغمبر حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي: (چې د مسلمان سبا باید له نن څخه غوره او بهتره وي.) هغه دین، چې له خپلو پیروانو څخه غواړي، چې ستاسو نن او سبا باید توپیر سره ولري، نو دا به څومره دردونکې وي، چې د داسې یوه کامل او شامل دین د پیروانو یو کال له بل کال سره توپیر ونکړي، د یوه مسلمان په توگه باید د خپل ژوندانه شیبې ـ شیبې ته متوجې شو، هر وخت خپل ځان محاسبه کړو، له ځان سره حساب وکړو، هره ورځ د خپلو نیمگړتیاوو د پوره کولو لپاره لاس په کار شو؛ تر څو په فردي، کورني او ټولنیز ژوند کې د هوسا او سرلوړي ژوند څښتنان شو.

پای


ZERAI
Afghanistan Sciences Academy (ASA)

**Editor - In - Chief:**
Associate Professor
Muhammad Ishaq Khawreen (Ph.D)

**Assistant:**
Assistant Professor Pashtoon Pashtoon

*Compose & Layout Design:*
Dr. Khawreen

**Address:** Center for Languages & Literature,
Institute of Pashto Language & Literature (ASA)
Shahr-e-Naw Kabul - Afghanistan
**Contacts:** (+93)(0)202201279/(+93)(0)780831960
**Email:**zerai1316@asa.gov.af/ zerai1316@gmail.com



څېړندوی شوکت الله عمر


## په پښتو کې د مصدرونو لفظي حالتونه او حکمونه

پښتو مصدرونه د استعمال له مخې لاندېني حالتونه او حکمونه لري:

۱- په پښتو کې ټول مصدرونه د نرینه جمعې حکم لري او ټول صفتونه ، فعلونه او روابط ورسره د نرینه جمعې په بڼه استعمالیږي ،لکه: هره ورځ وهل، ټکول ښه نه دي، زیات خوړل ضرر لري، لیدل کتل مو سره وشول.

۲- که چېرې ( د،په،پر،له،بې، تر) ادات له مصدر څخه د مخه او (ته، لره، نه، څخه، ځنې، لپاره، سره، پورې، باندې، لاندې، گنې) ادات له مصدر څخه وروسته راشي او یا د مصدر متعدي ماضي په فاعلي حالت او یا ندایي حال واقع شي. په پورتنیو ټولو حالتونو کې یې په پای کې (واو) راوړل کېږي یا په بل عبارت په ارتباطي حالت، فاعلي حالت او ندایي حالت کې (چې د نوم په بحث کې ښودل شو، د پښتو مصدرونو په پای کې (واو) چې د مخه توری یې پېښ ولري ، ور زیاتیږي مثالونه یې:

**ارتباطي حالت**

د: د وهلو لرگی یې مات شو.

ته: پاڅېدلو ته لاډېر وخت دی.

په: په لوستلو کتاب خلاصیږي

له-لره: خوړلو له تیاره یې.

پر: پرښکنځلو سرې بد ښکاري.

لپاره: ستالیدلو لپاره راغلی یم.

له: له غورځېدو مې بچ کړه.

سره: د خوړلو سره احتیاط ښه دی.

بې: بې لیکلو خط نه ښه کېږي .

ځنې،نه،څخه: تللو ځنې،څخه .

باندې: په لیکلو باندې ستړی شوم.

تر: ترلیدلو یې نه لیدل ښه دي.

کښې:په تللو کښې دې فایده ده.

**فاعلي حالت**

ډېرو لیکلو ستړی کړم - ډېرو خوړلو رنځور کړې.

**ندایي حالت**

اې لیکلو زه مو ناجوړه کړم.

**کړنومی یا پای (مصدر):** په پښتو کې یو کړ په مصدر (کړنومی) نومول کېږي،لکه چې وایو: د ((وهل)) کړ یو لېږنه(متعدي) کړ دی ، که نه په کار وه ، هرکړ د خپلې ولۍ ،لکه: وهـ -یاستې لکه نڅېد،نڅېږ- په نامه یا شوی وای، په دې چې دا ویې پخپله له کړولی څخه رغېدلی او په کړنومونوکې راځي، یا یوه ټاکلې اوړنې بڼه (صیغه) نه راڅرگندوي، بلکې د نوم غوندې له زماني اړوندۍ ازاد دی او یوه ناپایه کړنه او پېښېدنه څرگندوي، په پښتو کې ورسره د یوه ډېرگړي (نرینه) چلند کېږي او یوازې د پېر له مخې اوړون مومي.

**سته:** سته د یو گردان شوي کړ هغه برخه ده چې له کړولۍ او یوه بل گردان توکه رغېدلې وي ، په بله وینا،که له گردان شوي کړ څخه مخکړ یابل مخنۍ توک (لکه و- wo) او وگړیزه پایله لرې کړ شي، د کړ سته پاتېږي . پښتو کړ گړپوهه یا په بله مانا کړ اوړون د نورو مهالو آریاني ژبو غوندې د درېگونو ستو ترڅنگه زیات د دووگوړو (متقابلو) ستو پر بنسټ ټیکاو لري، یوه اوسمهالې او بله تېرمهالې ستهو، اوسمهالې یته یا یووستوې (لومړنۍ) یا په ژبه ، له کړولۍ سره برابره وي ،لکه: په خورم، خورو... کې یا غځېدلې(دویمنۍ) چې یو ساده ترک یا نښه (-یږ-) په نالیږند کړ (نڅیږم-کېږم) یا لکه( او-aw) په لیږند کړ او لیږند چار کړ (اچوم، اچوو... یا نځوم، نځوو...) مې په بله وینا په بشپړه او نابشپړ لیږند تېر مهال کې نرینه یو گړې پایله تل بې (-ل) راځي او ښځینه یو گړی او ډېرگړې هغه په ټولیز ډول له(-ل) سره راځي، او هسې یوه نیمه بیدو دي (استثنا) ښیي، په داسې کړ کې چې له نالیږند هغه سره یـــــــې بیا سرچپه دول نوموړی توک په تولیزه توگه غورځي او چېرې یوه نیمه بي دودي رامنځته کړي، دغه لاندېنیو بیلگو ته ځیر شئ: (تله، او) غندله (و) ستایله (و) کېنله: (و) څېرله، (و) وهله... مگر: (و) ایسته، ننه ایسته، (و) خوړه،(و) لیده،(و) کته، (و) لوسته، راوسته، راوړه، یوړه، (و) کړه،(و) رغېده،... راځي، په ((کښېناستل)) کې ((ناست)) یا په بله وینا: ((ناستل-)) دویمه (تېرمهال) سته ده او ((کښې)) مخـــــــکړ دی، په ((اخیستل)) کې ((اخیست-)) په ((اغوستل)) کې ((اغوست)) په ((پاڅېدل)) کې ((پاڅېد)) او په ((څملاستل))کې ((څملاست)) ستې گڼل کېږي چې زیاتره یې ((-ل)) نه ملگری کېږي، یا په بله مانا ترې لوېږي مگر په: راغله، راتله کې هماغه سته بیا راڅرگندیږي.

ډېر گړی نرینه بیا په دواړو لیږندو او نالیږندو ((بشپړ او نابشپړ)) تېرمهالو کې په ټولیز ډول پر(-ل) پای ته رسي او چېرې په یو نیم گړدود او بیا ځینو کړو ، په تېره نالیږندو هغو کې (-ل) غورځي او یوازې اړوند زورکی پاتې کېږي، په لیږند کې، لکه: ما پنځه غله (و) لیده، (و) اخیسته، (و) نیوه، (و) کړه، راکړه ، درکړه ، ورکړه، (و) ایسته.

| ۱- اوسمهالې سته | ۲-تېرمهال سته | ۳ - کړنومی(مصدر) |
| --- | --- | --- |
| اخل-\اخـ | اخیست (ل) | اخیستل |
| اغوند | اغوست(ل) | اغوستل |
| الوز | الوت(ل) | الوتل |
| اوړ | اوښت(ل)-\اوړید | اوښتل |
| باسـ | ایست(ل) | ایستل |
| بول | بد(ل)-\بول(ل) | بلل\بولل |
| پېژنـ | پېژند(ل)- | پېژندل |
| چو | چاود(ل) | چاودل |
| غواړ | غوښت(ل) | غوښتل |
| رو | رود(ل) | رودل |
| کاږ | ښک(ل)\کښـ(ل) | ښکل\کښل |
| ښي | ښود(ل)\ښوو(ل)،ښي(ل) | ښودل\ښوول\ښیل |
| گور | کتـ(ل) | کتل |
| لول | لوست(ل) | لوستل |
| وینـ | لید(ل) | لیدل |
| نیسـ | نیولـ(ل)\نیسـ(ل) | نیول |
| نغاړ | نغښت(ل) | نغښتل |
| وای | وېد | ویل |

په نالیږند کې ، لکه: خلک پاڅیده، (و)نڅېده،(و)گډېده، (و)شرمیده، څملاسته، کښېناسته،ولاړه،(و)لمبېده،(و) درېده،(و)خاته،(و) رېږدېده، وه (ول) (و) شوه یا (و) شو (و) شول... خو تر هر څه له مخه یې له یوگړي سره د گډون له کبله معیاري نه گڼل کېږي .

په (راغلل) او (راتلل)کې د غبرگو ((لامونو)) راتگ ښایي د ترنمې موخې زېږنده وي ، خو را وروسته لومړي ((لامونه) د تېرمهال کړ بنسټ توک گرځېدلي او دویمي د نرینه ډېرگړي د پایلې ښکارندویه دي ، چې په یولړ دودو کې غورځي او هماغه راپاتې ملگري زورکي یې استازي کوي ، یا په وینا((راغله)) او ((راتلهδ)) ویل کېږي، ناویلي دې پاتې نه شي په لنډ(قریب) او لر(بعید) تېر مهال کې چې له غځېدلي تېرمهال بېچارکړ نوم( مفعولي حالت) څخه جوړیږي (-ل-) په ټولیز ډول د اړوند بېچارنوم د اړین رغنده توک په توگه خوندي پاتېږي او یوازې د یاد شویو (-ل) غورځونکو کړونو تواني اړوتې(شرطي) ارماني او یوې نیمې بلې ناخبري بڼې (-ل) له لاسه ورکولای شي، لکه: (و) خوړای (و) رسېدای (و) شوای...

### مأخذونه


۱-رښتین، صدیق الله. پښتو گرامر، گودر خپرندویه ټولنه: جلال اباد. ۱۳۹۵ل.

۲-زیار، مجاور احمد. پښتو پښویه، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور. ۱۳۸۴ل.

۳-خویشکی، محمد صابر. پښتو غږ پوهنه او وییپوهنه، ختیځ خپرندویه ټولنه: جلال اباد. ۱۳۹۸ل.


★★★★★★★★★